## د دکتور محمد اشرف غنی دفتر

نیټه: ۱۰/سلواغه/۱۴۰۲

### د پودکاستونو شپږمه برخه

**جنبش:** السلام علیکم ګرانو اورېدونکو، دوستانو او ډېره مننه چې زموږ د پودکاستونو دا لړۍ له ولسمشر محمد اشرف غني سره تعقیبوئ، نن د اقتصاد وار دی.

استاده! بیا درته هرکلی وایم، ستړي مه شئ.

د اقتصاد موضوع خو ستاسې د طبعې موضوع هم ده، نو فکر کوم درته ډېره به په زړه پورې وي.

**دکتور غني:** بسم الله الرحمن الرحیم

ډېره مننه، موضوع هم زړه پورې ده او هم د ژوندون د اساساتو نه ده او وختې چې د ژوند لارې باندې غږېږو، مجبور یو په اقتصاد باندې هم وغږېږو.

**جنبش:** او ډېر به پرې وغږېږو، ځکه چې د اقتصاد مختلفې برخې به په راتلونکو خپرونو کې ولرو، دلته به یې اساساتو او اوسنې حالت باندې تم شو. د افغانستان اقتصاد، اټکل دا وو د نړیوالو کارپوهانو او پخپله افغانستان کې هم د خلکو، چې کېدای شي ډېر سخت ولوېږي، هغسې ونه لوېده یعني اټکل هغسې رانغی، خو وده هم پکې نه برېښي. زما پوښتنه داده چې دا څه ډول اقتصاد دی ستاسې له نظره چې نړۍ سره نه دی نښتی، یوازې یوه ډېره کمه برخه بشري مرستې راځي، نور ورسره داسې نښلون او پیوستون نلري، خو بیا هم چلېږي؟

**دکتور غني:** لومړی عرض مې دادی چې نړۍ سره [د افغانستان اقتصاد] ډېر نښتلی دی، جرمي برخه د اقتصاد او شبکه یې برخه د اقتصاد نړۍ سره ډېره سخته تړلې ده. هیرویین او اوس امفتامین... د افغانستان نه د امفتامین صادرات، آخري ګزارش د ملګرو ملتو ښیي چې زښتو ډېرو هیوادو ته په وده کې دي او لا د تریاکو [د] بندېدلو نتایج واضح نه دي چې واقعاً څه تأثیر لري، اما هیرویین لا هم په قوت روان دي، نو دا برخه باید په واضح توګه نظر کې ونیول شي. هو، نړۍ سره چې په اصولې روابطو او په قانوني روابطو سره چلند و، هغه روابط شلیدلې دي، اما دا برخه پیاوړې شوې.

بلې برخې نه که د افغانستان وارداتو ته وګورئ، تخمین په حدود د ٦,٢ میلیارده ډالره ده، اما بیا هم باندنۍ څېړنې دا ښیي چې دغه ٦,٢ میلیارده ډالره د افغانستان په داخل کې اکثر مواد یې نه استعمالېږي، بلکې ډېر احتمال لري چې نورو ګاونډیو هیوادو ته صادر شي. نو دا برخه هم [په دې پورې] تړلې ده چې شبکه یې ارتباطونه دي. له بلې خوا نه قراردادونه

په پټه ورکول کېږي، واضح نده چې د افغانستان شتمنۍ څه رقم ویشل کېږي؟ په څه اصولو باندې خرڅېږي؟ ددې عواید د چا په جیب کې ځي او کومې مودې لپاره دا ورکول شوي دي؟

نو دا رقم علایم موجود دي. له بده مرغه دا دوه برخې د روابطو برخې دي، منتها فرق یې پدې کې دی چې دا شفاف قانوني روابط نه دي، هغه برخې چې په رسمي یا قانوني اقتصاد پورې او په عرفي اقتصاد پورې تړلې دي، له بده مرغه بیا کمزورې شوي دي.

**جنبش:** دغه ډول غیر رسمي یا د بل تعریف له مخې جرمې برخه د اقتصاد مخکې هم وه او پیاوړې هم وه هغه وخت کې هم. فکر کوئ اندازه یې د هغې نه ډېره شوې ده، یعنې ونډه یې په رسمي اقتصاد کې ترهغې ډېره شوې، که همغومره پاتې ده؟

**دکتور غني:** دا یوه معادله ده بیا هم. هر څومره چې رسمي اقتصاد یا قانوني اقتصاد ورته وایاست [یا] شرعي اقتصاد، [چې ددې ونډه څومره ډېره] وي په هماغه اندازه د جرمي اقتصاد یا شبکه یې اقتصاد فیصدي به کمه وي. اما په هره اندازه چې قانوني اقتصاد او عرفي اقتصاد چې اکثریت د افغانستان خلک پکې ژوند کوي، کمزوري شي او مخکې موږ او تاسې پدې باندې وغږیدو چې عمده څلورو سکتورونو څنګه صدمه لیدلې او کمزوري شوي دي، تر هماغې اندازې پورې هغه بله برخه اوچتېږي.

اوس خبره پدې کې ده چې پیسې د چا په لاس کې دي؟ څوک پیسې لري او هغو پیسو سره څه کوي؟ او په نورو ممالکو کې لکه کولمبیا او نورو ځایو کې دا لیدل شوي دي چې جرمي اقتصاد په قوت باندې د نورو شتمنې په ارزانه په داسې شرایطو کې لاندې کولای شي چې ځمکې دي، جایدادونه دي، نور بنسټونه دي، فابریکې دي او [نور] دي. بیا هم هغه شی چې احتیاط په [کې په] کار دی [دادی] چې باید سړی د علم له نظر نه وغږېږي، ځکه چې ډېري خبري پټې دي، دلته قضاوت باید په اسنادو باندې وي،. موږ په علایمو قضاوت کوو او علایم واضح دي، اما دقیق اسناد مو په کار دي چې دا برخه وڅېړو. [مخکې هم] مقدار د جرمي اقتصاد له لس هاوو میلیاردو ډالرو نه په کال کې ډېرتر وو. نو؛ دلته باید [دا] په نظر کې ونیسئ.

۲۰ فیصده په کال کې زموږ اقتصاد ورانېده، د طالبانو او نورو له خوا، یعنې په کال کې په حدود د یونیم میلیارد تر دوه میلیارده ډالره موږ له لاسه ورکول، هغه برخه اوس تر ډېره حده کمه شوې ده، اما دا چې پیسو سره څه کېږي، عوایدو سره څه کېږي، دا ډېره برخه پټه ده.

**جنبش:** همینجا مناسب خواهد بود که در مورد بخش های دیگری از اقتصاد هم صحبت کنیم، شما در یکی از برنامه های گذشته اشاره هایی داشتید، انواع و اقسام فعالیت های اقتصادی را میخواستید تشریح کنید، شاید همین بهترین جایش باشد، [که توضیح شود] مخصوصاً در حالت فعلی افغانستان ما چند نوع از اقتصاد را میتوانیم مشاهده کنیم؟

**دکتور غني:** قسمت اول اقتصاد قانونی است که دو بخش دارد: یک، بخشی که به اساس قوانین تنظیم می شود و به شفافیت مردم امکان فعالیت میدهد و دوم اقتصاد عرفی است مخصوصاً اصناف ما و سکتور خدمات ما قرن ها است که دوام داشته [است]. فرق در چیست؟

دو طرف یک کوچه را ببینید یا دو ناحیهٔ یک شهر را ببینید، آن بخش جایداد که ملکیت شرعی است یا ملکیتی است که به صورت رسمی مورد قبول است، قیمتش ۲ تا ۱۰ چند زیادتر از آن بخشی است که آن طرف سرک به شکل عرفی داد و گرفت میشود و این پدیده اقتصاد غیر رسمی یا اقتصاد عرفی اکثریت مردم را به مشکلات اساسی دچار میکند، چون مصئونیت جایداد اینها تأمین نیست و امروز یکی از مسایل اصلی در هر دو بخش هم اینست که آیا مصئونیت جایداد وجود دارد یا خیر؟ وقتیکه افراد به زور ملکیت ها را میگیرند و کسی توان این را ندارد که مجبور شان بسازد که ملکیت ها را تخلیه کنند و واضح برای شان جواب داده می شود که دست تان آزاد. در آن حالت تمام اعتماد سرمایه گذاری که از ملکیت مصئون و از [مصئونیت] مال و جان و حق واینها سرچشمه می گیرد، مورد سؤال قرار می گیرد.

قسمت دیگر اقتصاد جرمی است، اقتصاد جرمی جزء جهانی شدن سیاه است، ما یک پروسه جهانی شدن مثل انترنت و شبکه های اجتماعی و [امثال آنرا] را داشتیم که جزء تکنالوژی عصری است و جهان را با هم نزدیک کرد، مگر در پهلوی این، یکی از عمده ترین پدیده هایی که در سی سال اخیر خاصتاً بروز کرد، ایجاد شبکه های جرمی بین المللی بود، و یکی از قوی ترین اینها، شبکه های مواد مخدر است و مطالعاتی که صورت گرفته به صورت واضح نشان میدهد که شبکه های تولید هروئین و شبکه های تولید کوکائین که یک آن در آسیا است و [دیگرش] در امریکای لاتین، با هم ارتباط دارند.

در عین حال یک قسمت زیاد پولی که از این میآید و مرکز استعمال آن اروپا است، بانک های عمده اروپایی و غیر اروپایی بدبختانه در این نقش داشته، بنابر این، [این] یک اقتصاد است که قابل ملاحظه است و صدها میلیارد دالر در آن مطرح است. این اقتصاد بدبختانه نتایج بسیار وخیم دارد. در تولید تریاک طور مثال، دست مزدی که می دادند نهایت بالاتر از این بود که معلوم دار از انگور یا گندم یا اینها میگرفتند، مگر در عین حال اعتیاد را در بین اطفال، زن ها و مرد ها [بالا برد]. افرادیکه در آن دست داشتند، میگفتند مجبوریت است، اما میفهمیدند که این مخالف شریعت است.

این سرمایه در کجا است؟ که از این سرمایه میلیاردر شده یا حد اقل به دالر میلیونر شده و قیمت آنرا که میپردازد؟ و امروز یکی از عواقب آن معلوم دار اینست [که] موضوع اعتیاد یکی از مشکلات جدی، صحی و امنیتی کشور گردیده.

در اول ادعا این بود که دیگران معتاد می شوند، در خود افغانستان اعتیاد به وجود نمی آورد، اما بدبختانه بوجود آمد و پولی که از این [مدرک] آمد، دوران آن و تاثیر آن از یکطرف [با وزارت داخله ارتباط داشت]. وزارت داخله هیچگاه اصلاح نشد و از نگاه تحلیل بین المللی به یکی از منابع سوء استفاده اساسی و مشارکت با اقتصاد جرمی [مبدل شده بود].

**جنبش:** وزارت داخلهٔ بیست سال جمهوریت؟

**دکتور غني:** وزارت داخلهٔ دوران جمهوریت. یکی از فاسدترین نهادها بود، اما معلوم دار در تقسیم، در مشارکت... وزارت داخله [در بخش عمده آن دوران با که بود] این کدام چیزی پنهان نیست. اسناد بین المللی که از طرف منابع امریکایی توسط خواست هایی که ژورنالست های واشنگتن پوست در محکمه رفتند و اجازه دسترسی به آنرا [به دست آورند، در آن]، اتهامات سر مقام های بالارتبه به صورت واضح مطرح شده [است] و با وجود جنگ، [انتقال] مواد مخدر هم از سرحدات جنوبی ما و هم از سرحدات شمالی ما به صورت اساسی در دو شبکهٔ بزرگ مطرح بود، یکی به طرف شرق میانه و اروپا و قفقاز و [امثال آن] و شبکهٔ دیگرش به طرف آسیای میانه و روسیه و چین و هند و حتی افریقا و آمثال آن. این شبکه ها؛ شبکه های قوی است.

نقطه ییکه حال به وجود آمده اینست که معادن افغانستان، دارایی های دیگر افغانستان به چه رقم به لیلام گذاشته شده؟ که در این مطرح است؟ در گذشته ها که یک مثال بود که در شب سیاه مورد معامله قرار میگیرد، اما وقتیکه به صورت سری در روز روشن مورد معامله قرار بگیرد [چطور است؟] و این نکتهٔ اساسی [را] باید ببینیم که این قراردادها مشروعیت بین المللی ندارند، مشروعیت بین المللی داشته نمیتوانند، چون این منابع سرمایه ای است که به تمام مردم افغانستان تعلق دارد و تا به صورت شفاف مورد استفاده قرار نگیرند و استناد قانونی نداشته باشند، اینها در پشت پرده است.

**جنبش:** په عین حال کې کېدای شي د جمهوریت دوره [خپله] یوه بریا دا وبولې چې په لومړي ځل دافغانستان په تاریخ کې ملي عواید چې زیات یې د رسمي اقتصاد محصولات وو، دوو میلیاردو ډالرو یا دغې کچې ته ورسیدل.

**دکتور غني:** بالکل؛ دریو کلو کې موږ ۷۳٪ په عایداتو کې اوچتوالی راوړ او ددې اساس کېښودل شو. مگر اصلی طرحه او هغه شی چې باید راتلونکې لپاره یې په نظر کې ونیسئ [دادی چې] افغانستان یوازې د گمرکاتو په عوایدو باندې نشي چلیدی،. وده باید په اساسي توگه راشي، سکتورونه باید ډېر شي چې یو منظم مالي اساس په افغانستان کې موجود شي، تر څو ولس وکړای شي په خپلو پښو ودریږي.

اساسی مسئلې ته راځو؛ ولس عصري ژوند غواړي، خدمات غواړي، اوس هغه ولس نه دی چې ووایي که پنځو کلو کې دې یو سړک راته جوړ کړ یا په شپږو کلو کې دې یو روغتون راته جوړ کړ، کور دې آباد! ولس بیړه کې دی. زه ټولو ولایاتو د افغانستان کې گرځیدلی یم، داسې ولایت نه [شته] چې خاصې طرحې ونلري او خاص لومړیتوبونه؛ او لومړیتوبونه

مشترک دي، یو دي: د ژوند امکانات غواړي او لکه چې تاسې پښتوانۍ مرکه کې وویل دغه کډوال چې بېرته راځي خو د ژوند یوې سطحې سره آموخته شوي دي او کم له کمه هغه غواړي، ددې لپاره چې وکړای شئ د ولس غوښتنې ترسره کړئ، باید یو اقتصادي اساس ولرئ او یو اساس دا دی چې د دولت عواید باید په مشروع توګه په ډېرېدو شي او بېرته د ولس په لومړېتوبو ولګېږي.

**جنبش:** هغو پښتوانیو شرایطو ته [چې وګورو] له مالیې نه تېښته ډېره وه، اوس کېدای شي د مالیې ټولولو کار منظم شوی یا آسان شوی وي او پدې حساب ملي عوایدو کې هم ډېروالی راغلی وي؟

**دکتور غني:** بیا هم دوې برخې دي؛ یوه، تېښته وه او یوازې تېښته نه وه، د جنګ سالارانو برخه، غیر قانوني برخه او په زور د ملي عوایدو ګرځول یوه ډېره بده او شومه پدیده وه او ځواب یې باید دوی ورکړي، ځکه چې دوی د ملي ګټو مخه ونیوله او مخصوصاً ګمرکاتو کې او نورو برخو کې هغه تور کارونه دوی وکړل چې تر قیامته پورې به پاتې کېږي. او له بلې خوا نه یې مشارکت درلود، د ټرانسپورټ برخه وګورئ، څومره پولیس دخیل وو چې هر ځای کې یې [موټر] درول. له یوې خوا نه طالبانو درول او له بلې خوا نه پولیسو درول او همدا پولیس چې ورباندې په سل‌هاوو میلیونه ډالر لګېدلي وو.. [دوی] محلي افراد وو، [یوازې د پولیسو] دریشی یې اغوستې وې. دې برخې باندې باید راشو د دې لپاره، ځکه چې زه غواړم چې دا ونه وایو چې هر شی ګل وګلزار وو.

اوس یوه برخه پدې کې ده چې د ګمرکاتو مدیریت په لومړي قدم کې یو لاس شوی، اما ځینې عوامل اوس موجود دي چې ښیي چې مختلفي شبکې بیا هم په زور کې دي او ځینې افراد پیدا شوي دي چې وایي ورباندې زور د هیچا نه رسېږي.

**جنبش:** یعنې په هماغه ډول د عوایدو یوه برخه ځان ته اخلي؟

**دکتور غني:** [دا اخیستنه] په ابتدایي ډول ده، په هغه شدت نه ده، اما علایم یې واضح دي او دا علایم خطرناک دي، ځکه که [علایم دا وي چې] وواېې یا به موږ عواید خپلوو، د خلکو جایداد خپلوو [او که نه نو] داعش ته ځو، دا نو بیا هغه ټوله ادعا چې دوی وایي امنیت یې راوستی، په اوبو [لاهو کوي]، اما علایم ددې ډېر واضح موجود دي او خلک ورباندې خبر دي، متأسفانه خلکو ته وایي چې خوله وتړئ او خلکو ته که موقع ورکړل شي ددې مخنیوی کېدای شي.

دویمه [خبره] په مالیې باندې وه، د مالیې په عوایدو [باندې]. ټولې بین‌المللي څېړنې ښیي [چې دا عواید] کم شوي دي، ډېر شوي نه دي، اما هغو خلکو نه چې په زوره اوس، هم له ځمکې نه او هم له دوکانونو نه او نورو نه عواید ټولېږي، دا [کار اوس تر پخوا] ډېر شوی او دا په [داسې] حالت کې چې ددوی ژوند خپله په بد وضعیت کې دی، دا نولسمې پېړۍ ته بېرته تګ دی.

په نولسمه پېړۍ کې، د عبدالرحمن خان په وخت کې تقریباً ۵۰ تر ۷۵ ٪ حاصل د کروندګرو په مالیه [کې ورکول کېده] او چا به درمند نشو ټولولی تر څو چې [پاچایي] مُهر ورباندې نه [وای لګېدلی، ددې له پاره] چې برخې سره بیلې شي. هغه وخت کې به یې عواید په اجاره ورکول، اجاره دار وو چې دا کارونه به یې کول، [او همدغسې] پس د ډاکټر نجیب د حکومت د ړنګېدلو نه مو ولیدل چې ځینې افراد چې په محلي توګه مطرح شول او جنګي قوتونو باندې بدل شول اول [هر هغه] څه چې په ګودامونو کې وو هغه یې وخوړل، اما پس له هغه نه راغلل په خلکو باندې [او مالونه یې ترې یوړل] او وده مطلق له منځه ولاړه.

**جنبش:** یعنې دا دواړه حالتونه شبیه دي، فکر کوئ؟

اوس فعلاً شبیه نه دي اما زه یې خطر وایم. که دا بیا په قوتونو باندې بدل شي او فشار له حده ډېر شي په خلکو باندې [عواقب یې همغسې کېدلی شي] یعنې موضوع باید یوازې د عوایدو ټولول نه وي، د داسې عوایدو ټولول وي چې د اقتصادي ودې نتیجه شي نه دا چې اقتصادي رکود او د اقتصاد له منځه تګ ورسره تړلې وي. آیا عواید د جرمي اقتصاد نه ټولېږي؟ څومره ټولیږي؟ شبکه یي اقتصاد نه څومره ټولېږي؟

دا پوښتنې باید په واضح توګه مطرح شي. چا په دومره لسیزو کې څه ټول کړي له هلمنده او له هرې بلې لارې نه، ولې؟ دې خو شریعت کې اساس نه درلود؟ اوس که له هیروینو نه افغانستان بدلېږي د امفتامین د صادراتو په مرکز، دا [پیسې] د چا په جیب کې ځي او نتایج یې دې ولس ته څه دي؟

پټې پیسي موجودې دي، د همدې لپاره د ډالرو قیمت ټیټ شو، د دې پټو پیسو منبع، زه فکر کوم چې په واضح توګه جرمي او شبکه یې اقتصاد ته ورګرځي.

**جنبش:** و در اینجا یک پرسش حتماً در مورد ذخایر ارزی افغانستان هم بجا خواهد بود که مردم معمولاً می پرسند، ذخایری که در ایالات متحد امریکا مسدود ساخته شده، در اقتصاد افغانستان نقش آن چیست و مسدود بودن آن به چه معنی است و رها شدن آن میتواند چه پیآمدهایی داشته باشد؟

**دکتور غني:** در قدم اول خدمت تان عرض کنم، که ما توانستیم ذخایر افغانستان را دو چند بسازیم، اساس این ذخایر را متفکر ملی اقتصادی افغانستان مرحوم عبدالمجید خان زابلی گذاشت. قبل از اینکه امریکا در جنگ دوم جهانی داخل شود، آقای زابلی صادرات قابل ملاحظۀ پوست قره قل را به امریکا انجام داده بود و وقتیکه امریکا داخل جنگ شد این پول مسدود می شد، او با این پول یک مقدار قابل ملاحظۀ طلا را خریداری کرد و در بانک مرکزی نیویارک که یکی از شعب بانک مرکزی ایالات متحده امریکا است، گذاشت. در طول زمان این ذخیره طلا یکی از منابع عمدۀ پشتوانه افغانی

شد پول ملی ما، و وقتیکه من افتخار خدمت در وزارت مالیه را داشتم پول را اصلاح کردیم که [تا آنزمان] پول افغانی ارزش خود را مطلق از دست داده بود و یاد تان است که یک سبد پول به کار بود تا یک سبد سبزی را خریداری کنید.

ذخایر در این بیست ۲۰ سال به حدود زیادتر از ۹ میلیارد دالر رسید، این پشتوانه پول افغانی است، این پول تنها در حالات اضطراری باید استفاده شود، غیر از این استحکام پول با خطر م[مواجه می شود].

اقدام امریکا [مبنی بر مسدود کردن ذخایر اسعاري ما] بی سابقه است، اینها تعزیر وضع کرده میتوانند، تعزیر را وضع کردند؛ اما اینکه پول مشروع یک مملکت را سرش اینها تصمیم بگیرند و این را به افراد مختلف ببخشند، مثل کسانیکه ادعا داشتند سر طالب ها به اتهام این که اینها در فاجعه ۱۱ سپتمبر نقش داشتند، که هیچ نوع اسنادی برای این وجود ندارد، اما این یک ادعایست که در یکی از محاکم [مطرح] شده بود و بالآخره رد شد، این [یک عمل] بی سابقه است و [همچنان] اقدامی که در مورد ذخایر روسیه صورت گرفت به تعقیب این بود. این [اقدام] بی اعتمادی را به وجود آورده، این یکی از سرمایه های ملی افغانستان است که ارتباط واضح دارد به ایجاد مشروعیت ملی و اعاده مشروعیت بین المللی که بر اساس آن بتواند پس در دسترس افغانستان قرار بگیرد. [قبلاً] هر ماه یک مقدار پول از این ذخایر می آمد به صورت منظم که در بازار به صورت دالر فروخته شود. ما توانستیم که از عواید بانک مرکزی، هر سال [بر مقدار] این پول [بیافزاییم]، که این جزء یک سیاست منظم اقتصادی باید باشد.

**جنبش:** غواړم لنډ فقط یو دوو جملو کې راته ووایاست، دغه پیسې خو میاشتنۍ ګټه هم لري؟ یعنې په عین حال کې چې دا بندیز چې پرې لګېدلی تاوان یې رسولی، په عین حال کې هغه پیسې چې پرتې دي هره ورځ لګیا دی ګټه هم کوي، یعنې دغه سرمایه نوره هم ډېرېږي؟

**دکتور غني:** بلې هو، دا په ډېرېدو کې ده، ځکه چې د ګټې وړ حساب دی او هلته یو منسجم نظام موجود دی، چې ان شاالله تعالی په راتلونکې کې به د افغانستان د ولس په ګټه ورنه استفاده وشي.

**جنبش:** ښه؛ څرنګه چې موږ د اقتصاد په بېلابېلو برخو باندې نورو خپرونو کې غږېږو، لنډ همدلته ددې لپاره چې دا د عوایدو په سرچېنو او مسایلو باندې راغلو، یوه برخه د بهرنیو پانګونو یا د سرمایه ګذارۍ وه، په تېر کې هم دومره ډېر پرمختګ پکې رانغی، ځینو ځایونو کې چې ژمنې وشوې هغه عملي نه شوي، اوس هم زه اورم چې ځینې هیوادونه ژمنې کوي، فکر کوئ چې د چین یا عربي هیوادو غوندې بالقوه پانګوونکي کېدای شي بوخت شي په افغانستان کې او دا [کار]اقتصاد ته یو خوځښت ورکړي، که څنګه؟

**دکتور غني:** دا پدې [پورې] تړلې ده چې څه شرایط دي او دا پانګوال ددې ملکونو، راتلونکې ته څنګه ګوري. که په دې باور وي چې وضعیت ثبات خواته ځي او ددوی پانګه به دوی ته لویه ګټه راوړي، امکان یې شته. اما که په دې نظر وي چې وضعیت به یا په همدې حال پاتې شي یا به منفي خواته لاړ شي، نو بیا یې احتمال لږېږي.

پانګه اچول مراحل لري، هم د سکتورو له نظره او هم د اصولو له نظره. سکتورونه، لکه د معادنو سکتور کې چې پانګه اچوئ، باید لس کاله یا شل کاله [وروسته مهال ته] وګورئ، [خو که چېرې خبره] لکه د سکرو غوندې وي چې فوراً یې وباسئ او ددې پر ځای چې برق ورنه جوړ کړئ په نورو یې خرڅوئ، هغه بل شی وي.

اما دویم یې حقوقي شرایط دي. د جمهوریت په لومړنی برخه کې دوو لویو پانګونو کې چینایې کمپنیو ژمنې وکړې، پس له هغه نه چې عملي کار ته راغلل خپلو ژمنو باندې ونه درېدل، عینک..

**جنبش:** وبښئ؛ دا قضاوت به، تاسو د عینک یادونه کوئ، [دلته] پرځای وي [که نه چې] ما اوریدلې دي چې وایې د چین ژمنې په افغانستان کې ډېرې خیالولې او ډېرې بلند پروازانه وې په اصطلاح، مګر هیڅ یې ونکړل. دغه قضاوت صحیح دی کنه؟

**دکتور غني:** یو یې بلا عوضې مرستې دي چې ډېرې لږې وي، لکه د مثال په توګه د لس زرو کورونو جوړونه چې ژمنه ماسره وشوه، عملي نه شوه په ۷ کلو کې. هلته هغه دستګاه ډېره چټکه نه ده او له بلې خوا قیمتونه یې ډېر اوچت دي، موږ ته به مفته وای اما هغه شی چې موږ په سلو ډالرو کاوه فی متر مربع، دوی به په شپږ سوو ډالرو باندې کاوه.

باید پوه شئ چې ټولې مرستې چې له هیوادو نه کېږي، لومړی قدم یې د دوی خپله ګټه ده. د امریکې یو ډالر پنځه سینټه تر شلو سینټو پورې حد اعظمي ارزیده، په هغه باندې به ببرته راشو په یو بل بحث کې، زما تمرکز په دوو قراردادونو باندې وو، چې یو یې د عینک د معدن و او بل د تېلو قرارداد په شمال شرق د افغانستان کې و. دواړو کې، خاصتاً عینک کې هغه ژمنې چې شوې وې چې افغانانو فکر کاوه چې ژمنه ده، د مثال په توګه د څو سوه میګاواټه برق راوړل د مرکزي افغانستان د سکرو نه، د ریل پټلی جوړول او د مس صنعتي استعمال لپاره صنعت جوړول؛ په دې یوه باندې هم دوی ونه درېدل.

بل، دوی ژمنه کړې وه چې ډېره لویه فیصدې به یې ورکړې دولت ته او په مجرد ددې چې قرارداد یې واخیست، پس له هغه نه راغلل چې دا امکانات نشته او جنجال په دې کې و چې غوښتل یې هم ځېړنه دوی وکړې او هم فیصله دوی وکړي. نو؛ دا نتیجې ته ونه رسیدله، [عمل یې د] قرارداد په اساس باندې نه و، ځرنګه چې حقوقي ظرفیت [افغانستان کې] په هغه دوران کې په واضح توګه موجود نه و، [په دې دلیل ترې] دا قرارداد تېر شوی و، بې له دې نه چې ټول ابعاد یې وسنجول شي، دا هغه برخه ده چې باید...

**جنبش:** وښښئ؛ له تاسې نه مخکې تیر شوی و، تاسې نه دی کړی؟

**دکتور غني:** مخکې تیر شوی و، هغه دوره کې و چې زه حکومت کې نه وم.

**جنبش:** ښه؛ او ولې بیا، داسې آوازې وي چې غواړئ لغوه یې کړئ، ولې لغوه نه شو؟

**دکتور غني:** ځکه چې هر شی چې لغوه کوئ جناب جنبش صاحب حقوقي مراحل په کار لري او په عین حال کې ستاسو بین المللی مناسبات مطرح دي.

د تېلو قرارداد ما لغوه کړ پس له ډېرې څېړنې نه او دوی مې مجبور کړل، ځکه دوی [ویل] په هغه وخت کې یې پانګه اچولې وه چې د تېلو قیمت ډېر اوچت وو، پس له هغه نه د تېلو قیمت ټېټ شو او دوی نه غوښتل [چې د قرارداد پر موادو ودرېږي].

او له بلې خوا [دا هم] واضح ده چې یو چینایې شرکت له بل چینایې شرکت نه فرق لري او فساد په چین کې یوه لویه ستونزه ده. د ولسمشر شي جین پینګ یوه ډېره اساسي فیصله په دې اوسني وضعیت کې داده چې دا فساد د خصوصې سکتور کم کړي. قراردادونو کې دوی بریالي نه وو. له بلې خوا نه که پانګه اچونې باندې راځئ، پاکستان ته وګورئ په حدود د ۲۵ میلیاردو ډالرو یا ډېرتر له چین نه پوروړی دی، آیا پاکستان وده وکړه!؟

اساس دادی چې هر څوک چې پانګه اچوي خپلې ګټې ته ګوري، اما یو دولت او یو ملت باید دغه ظرفیت ولري چې پوه شي چې کوم [تړون] ګټور دی، کوم یې د اعتبار وړ دی او کوم یې ددې لپاره دی چې [مربوط شرکت یوازې منابع خپل کړي [او بس]. یو حالت دادی چې قرارداد چې ورکول کېږي، ببرته ډېر ممالک مجبور شوي دي چې هغه قرارداد ببرته له دوی نه واخلي، ځکه د ځینو شرکتونو ټول کار په همدې کې دی چې یو قرارداد درنه واخلي او پس له هغه نه ستا پانګه عاطله کړي تر څو ته مجبور شې چې دوی ته پیسې ورکړې او دا یو لوی کسب [ګرځېدلی] دی، خاصتاً د بین المللي حقوق دانانو چې [مخ] په ودې ملکونه داسې ځنځیرونو کې ګرفتار کړي چې ځان و نشي کړای ورنه وژغوري.

**جنبش:** و باز هم به قسمت های اخیری برنامه نزدیک می شویم، یکی دو سوال را زود زود می پرسم، نخست اینکه رشد اقتصاد کشورها تنها مربوط به منابع نیست، مهارت نیروی انسانی و کارگران هم خیلی نقش ارزنده دارد. در بسیاری کشورها ییکه فاقد منابع زیر زمینی استند، با همین مهارت توانسته اند به رشد قابل ملاحظه برسند. فکر میکنید افغان هایی که، باز هم اینجا ربط بدهیم به افغان هایی که عودت میکنند، در بین آنها مهارت هایی بیایند به کشور که باعث رشد مزید اقتصاد افغانستان شود؟

**دکتور غني:** ان شاالله تعالی. نکته اول ایجاد یک اجماع لازمی سر انکشاف است. بین مدیریت، توانایی مدیریتی و شهادتنامه باید فرق قایل شوید. من با تمام احترامی که به همکارانم دارم در نهادهای تحصیلات عالی که یک قسمت

زیاد عمرم در آن مصرف کردیم، بدست آوردن یک ماستری موجب ایجاد یک مدیر خوب نمی شود. مدیریت شکل خاص دارد و باید، هم از نگاه مسلکی، تخنیکی فهم ایجاد داشته باشند، هم از نگاه کار در ماحول و محیط و خاصتاً از نگاه ساختن طرح هایی که بتواند حرکت بیآورد.

دو شخصیت امارات متحدهٔ عربی را ببینید: شیخ زاید ابوظبی و پدر شیخ محمد دبی. اینها واقعاً کشورهای خود را سر پا ایستاد کردند، اما [مساله] این نبود که تحصیلات عالی داشتند.

لی کوان یو یکی از کلانترین شخصیت هایی که سنگاپور را از یک کشور دنیای سوم به دنیای اول برد، در طول کار ابعاد مختلف سکتورها و امثال آن را یاد گرفت و سنگاپور هیچ چیزی نداشت. و در وقتیکه امارات شروع به فعالیت کردند دارای عایدات نفتی نبودند.

بناءً ضرور است که ما انواع ظرفیت‌ها را واضحاً بسنجیم و نکته کلیدی ظرفیت اینست که ظرفیت در طول کار ایجاد می شود، با تجربه ایجاد می شود، قضاوت مابین اش به وجود میآید، از این جهت [برای ایجاد آن] تدوام به کار است.

مشکل ما به صورت اساسی این بوده که تهدابی را که مرحوم زابلی گذاشت، ما تعقیب نکردیم. طرحی را که مرحوم زابلی مطرح کرد، ۳۰ سال پیش از آنکه کوریای جنوبی مطرح کند، مطرح کرده بود و [این] واقعاً ایجاد همکاری بین یک سکتور سرمایه گذار بود نه یک سکتور تاجر، سکتوری که افغانستان را به طرف صنعتی شدن و صادراتی شدن میبرد و تمام اقتصادش را تغییر می داد. [این از طریق ثبات] دولت مرکزی به وجود آمده بود. در شرایط فعلی ما باید دوباره سر میز کار برویم که یک نقشهٔ اساسی امکانات خود، ظرفیت های خود و مشکلات خود را تشخیص بدهیم، تا به اساس آن تمام مردم را شامل کنیم که یک حرکت سرتاسری به وجود بیآید. در این رفاه همه است و تأمین زندگی آبرومند و آسوده امکان پذیر است.

**جنبش:** او غواړم دا پروګرام په یوه داسې پوښتنه پای ته ورسوم چې د راتلونکو پروګرامونو لپاره یو بنسټ شي. تاسې پخپله یوه وینا کې ویلي و، وګړو ته مو یوه سپارښتنه کړې وه چې زموږ فقر ازلي نه دی او ابدي کیدلای هم نشي، یعنې دا فکر له سر نه وباسئ چې موږ وږې یو او بې وزله یو، موږ نه یو. غواړم تاسې دا راته تشریح کړئ چې څنګه؟ د افغانستان نوم چې اخلې د فقر نوم ورسره تړلی دی، ستاسې دغه فرضیه په څه ولاړه ده؟

**دکتور غني:** زما فرضیه په دې ولاړه ده چې خدای جل و شانه موږ ته دومره امکانات راکړي چې په لسیزو نه، په پېړیو وربادنې مړیدای شو.

یوه قصه به مو اوریدلې وي؟ یو څوک په هندوستان کې و، خوب یې ولید چې یو لوی ګنج به درته ورسپړي، نو دی سبا له کوره ووت په درست جهان باندې وګرځېد او ببرته خوار راغی کاله ته، ویې لیده چې کور وران شوی او ځاه وچه شوې،

ځاه کې ښکته شو چې ښېرته یې وکیني. پوهېږئ لوی ترین آلماس د نړۍ یې پیدا کړ. خبره په څه کې ده؟ موږ په دغسې آلماس باندې پراته یو، مگر دا انسجام مو ندی پیدا کړی چې په گډه وحدت پیدا کړو، یووالی پیدا کړو، منظمې طرحې سره راشو چې خوار نه یو. هر بُعد د افغانستان باندې چې ان شاالله تعالی په راتلونکې کې ورباندې وغږېږئ د یو بډایه ولس، نه د افراط او تفریط یو ولس، [نه] د مطلق افراط او تفریط ولس؛ بلکې په یو هیواد کې چې هوساینه عامه وي او منځ کې یې نور هم د خپل مځ په لاس څه گټي او لا ډېره پیدا کوي، دا امکانات شته او زه په دې باندې یقین لرم چې ان شاالله تعالی کیدونکې ده او د کېدو لارې باندې به ان شاالله تعالی موږ او تاسو په راتلونکې کې وغږېږو.

**جنبش:** همدلته په ځای ده چې زه د گل پاچا الفت یوه نثر ته هم اشاره وکړم. هغه د یوه غله قصه کوي چې وړی و او غلا پسې ووت او چې غلا یې وکړه نو وایې غل په غره کې نه ځایېږي، په کور کې یې دا مال نه ځاییده، نو ډارېده چې څوک خبر نشي، د کور انگړ یې وسپړه چې دا پکې ښخ کړي. کله چې یې هغه سپړه، یو لوی کان ورته راووت. نو دی وایي چې دا سړی نه پوهېده چې په یوه لویه خزانه باندې پروت دی، یعنې دا ملامت نه و، دده ناپوهي ملامته وه. کېدای شي که موږ په افغانستان کې د پوهې او د ټکنالوجۍ سطحه دغسې یوه  پړاو ته ورسوو چې لازمه ده، کېدای شي دا د فقر سلسله و شکېږي.

**دکتور غني:** بالکل؛ ما د الفت صاحب دا لیکنه لوستې وه ، [څرنگه چط] هغه بله ډېره مشهوره وه نو ځکه مې هغه وویله، ډېر منندوی یم چې تاسو یې ذکر وکړ.  دا یوازې په تخنیکي پوهې پورې تړلې نده، دلته باید موږ دا باور راوړو چې جمعي عقل د افغانستان ډېر پیاوړی دی، ولس ته باید دا موقع برابره کړو، بې له دې نه چې ولس نه وډار شو، چې د ولس عقل او د ولس توان په کار واچوو.

که ولس، د مثال په توگه که هر څوک له خپل کلي نه یوه خښته جگه کړېږي، مکتبونه د قیمت یو په لسمه، یو په شلمه او یو په سلمه تمامېږي. یو بل ته لاس ورکول [مهم دي]. موږ او تاسې یوه لویه سلسله، یو عظیم دود، د حشر دود درلوده چې [د یوه گډ کار له پاره] سره ټولېدو. د افغانستان د اوبو انجنیري تر نولسمې پیړۍ پورې بې سارې وه په نړۍ کې. هر متخصص به چې له باندې نه راغی هک حیران به پاتې شو چې څنگه افغانان پدې توانېدلي دي چې دا اوبه، لیونۍ اوبه ایسارې کړې او لوی تمدنونه پکې [منځ ته] راوړي. دلته دا په کار ده چې موږ ټول یو بل ته لاس ورکړو او هره برخه د عامه شتمنۍ خپله شتمني وگڼو؛ نه دا چې اوبه زما نه دي، نه دا چې خاوره زما نه ده، نه دا چې ځنگل زما نه دی، نه دا چې معادن زما نه دي، نه دا چې لمر زما نه دی! دا ټول زموږ د ټولو دي. یا دا چې ووایي: نیمروز زما دی، بدخشان زما نه دی؛ یا فاریاب زما دی، پکتیکا زما نه ده. هره برخه ددې خاورې زموږ ده.

هر افغان حق لري چې هره برخه ددې خاورې کې ژوند وکړي او د تاریخ په پړاو کې  یې هره برخه ددې خاوره کې ژوند کړی، خلک په خوځښت کې دي. د یوه ملت معنی داده چې یو بل به منئ او ژوند ته ترجیح ورکوئ. عرض مې بیا هم

دادی، چې تکرار نه شي، ژوند ته باید لومړیتوب ورکړو، د ژوند په لومړیتوب کې بیا په دې قانع کېږو چې څنگه سره ژوند وکړو او یو بل ومنو او په مخه لاړ شو او ان شاالله تعالی دا کیدونکې ده.

**جنبش:** ډېره مننه؛ و این پیش زمینه ای شد برای بحث های آینده ما که در مورد امکاناتی که افغانستان را میتواند از فقر رهایی دهد و به پای خود ایستاد کند به [بحث] بپردازیم. این برنامه را در همینجا به پایان میبریم، بسیار تشکر از شما داکتر محمد اشرف غنی.

**دکتور غني:** تشکر از شما و تمام هموطنانی که به این برنامه گوش میکنند و سهم میگیرند.

یشه سن افغانستان

زنده باد افغانستان

تل دې وي افغانستان.